
حبیب هوتکي

۲۰۱۲/۰۵/۰۹

# د پوهان داکتر محمد حسن کاکړ په ویاړ دعلمی
## او ادبی غوندی به هکله لند رپورت

**دکلیفورنیا په شمال کې دافغاني کلتوري ټولنې په نوښت** د هېواد د علمي، ادبي او فرهنګي شخصیتونو د لمانځنې اوعلمي کنفرانسونو دجوړولو په لړ کې څه موده دمخه دافغانستان د پیژندل شوي مؤرخ او د کابل پوهنتون دپخواني استاد پوهاند ډاکټر محمد حسن کاکړ د علمی او ځیرنیزو خدمتونو په ویاړ علمي او ادبي غونډه جوړه شوې وه.



پوهاند ډاکټر محمد حسن کتاب د خپل نوي کتاب د امضا کولو په حال کې

په دغه درنه غونډه کې د سیمې د علمي شخصیتونو، لیکوالانو، شاعرانو او بیلابیلو افغانی ټولنودمشرانو او استازو پر ګډون ، د دري سوه څخه زیاتو هیوادوالو، او دلرو او نژدې ځایونه څخه ګڼ شمیر میلمنو هم ګډون کړی ؤ.

دغې غونډې دتکړه ژورنالست ښاغلی حبیب هوتکي په کوربه توب د ماښام له شپږو بجو څخه دشپی تر دولسو بجو دوام درلود. غونډه لومړئ د ښاغلي جلال واعظی لخوا د پاک کلام د څو مبارکو آیتونوپه تلاوت سره پیل شوه. په لومړي سر کې د کالیفورنیا په شمال کې دافغاني کلتوري ټولنې مشر ښاغلي نصیر یاسیني ګډون کوونکو ته د هرکلی په ویلو سره د افغاني کلتوري ټولنې په فعالیتونو او دغه لړ کې د پوهاند محمد حسن کاکړ په درناوي او ویاړ د جوړې شوې غونډې په هکله خبرې وکړی او ددوې یو نوې چاپ شوې کتاب « پشتون، افغان، افغانستان »یې معرفي او وړاندې کړ.

تر هغه وروسته ډاکټر عبدالرحمن زمانی د سلایدونو په مرسته د پوهاند ډاکټر محمد حسن کاکړ په ژوند او آثارو مفصله رڼا واچوله، او د دوې په بریالیتوبونو کې یې ددوې د میرمنې محترمې مریم جان کاکړ مهم رول ته اشاره وکړه . زمانی د خپلو خبرو په پای کې وویل چې **زمونږ په ګران هیوادافغانستان کې ستر مؤرخین لکه مرحوم احمد علی خان کهزاد، میرغلام محمد غبار او پوهاند عبدالحی حبیبی په شان ستر مؤرخین تیر شویدي . خو کاکړ صیب یواځینی کس دئ چې په تاریخ کې عالی علمي زده کړې لري، او پی ایچ ډي یې پکې آخیستي ده، دوې د تاریخ د استادئ دنده هم پر مخ بوولې او د هغو لږو کسانو په ډله کې دئ چې هم ورته دافغانستان د خارجه چارو د وزارت د آرشیف او هم دافغانستان دملی آرشیف د ټولو چانس برابر شویدئ، د انګلستان د بریتانوي هند آرشیف خو به لا نه یادوم . او تر ټولو مهمه لا دا چې اوس خو د مستبدو او مطلق العنانه رژیمونو د تهدید او سانسور ویره هم نشته، نو ځکه زه په داسې حال کې چې دوې ته دروغ صحت، او اوږد ژوندغوښتنه کوم، هیله لرم چې په نژدې راتلونکې کې د دوې په قلم د افغانستان دمعاصر تاریخ په ډیرو پټو ساتل شوو پاڼو او تیارو برخو رڼا واچول شي .**



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ

د غونډې بل وينا وال په سن هوزې کې د کاليفورنيا د ايالتی پوهنتون رئيس ښاغلي محمد همايون قيومي وو، چې دخپل پوهنتون په استازيتوب يې ډاکټر کاکړ ته د تاريخ، ښوونې او څېړنو په ډګر کې ددوی دهلوڅلو او خدمتونو په درناوي يو منښليک هم ورکړ.

ډاکټر قيوم کوچي د تاريخ ليکنې او مؤرخ په هکله او اهميت مفصله وينا وکړه او د دخپلې وينا په يوې برخې کې يې وويل چې ډاکټر کاکړ يو ملي شخصيت دئ چې د تعصب نه مبرا او تنګ نظري نلري، ليکنې او څېړنې يې پراخ بنسټ لري او آفاقي دي، او خپل تاريخي رسالت يې سرته رسولی دئ .

ډاکتر سيد عبدالله کاظم د خپلو خبرو په ترڅ کې د پوهاند ډاکټر حسن کاکړ په هکله وويل چې «عمر خود را در راه علم، در راه تحقيق و آن هم در راه موضوعات کشور عزيز صرف کردند، آثار زيادی نوشتند. برای ما جای بسيار افتخار است که امروز چنين شخصيت های را در کنار خود داريم، و جای بسيار تأسف است که امروز اين شخصيت ها دور از وطن در عالم مهاجرت به ياد وطن نوشته ميکنند، بدون آنکه گفتار و نوشتار شان کوچکترين اثری بر سرنوشت وطن داشته باشد. بهر حال افغان ها وطن خود را دوست دارند ولو که بروی اجبار به بيرون آمده ولی در هر ساحهٔ که توان داشته اند چه با قلم، يا زبان يا اگر کمک کردند، اگر يادی از افغانستان کرده اند نشانی از حب وطن است.

په دغه غونډه کې د کاناډا څخه راغلي ميلمه ښاغلي محمد حسن سهاک د پوهاند کاکړ سره ددېرشو کلونو پېژندګلوی په اساس ددوی په شخصيت، آثارو او افکارو رڼا واچوله، د برکلي دپوهنتون زده کوونکي شايسته زماني په انګريزی ژبه د پوهاند کاکړ «پر افغانستان د شورويانو ديرغل او افغانانو د غبرګون » کتاب وڅېړه، د کابل پوهنتون دښوونې او روزنې د پوهنځي پخوانی استاذې ميرمن توريپکی حيدري د ډاکټر کاکړ د «وطن ته يو سفر: طالبان او اسلامي بنسټ پالنې» په کتاب تحليلي رڼا واچوله، ښاغلي مصباح ياسيني په انګريزي ژبه دپوهاند کاکړ پر يوه بل کتاب «د امير عبدالرحمن خان په عهد کې د افغانستان حکومت او ټولنې » پر کتاب خبرې وکړی. بيا ښاغلی محمد نسيم سليمی د پوهاند کاکړ پر يوه بل انګريزي کتاب چې د ده تر ژباړنې لاندې دئ، رڼا واچوله .

دغونډې يو بل وينا وال هم دپوهاند کاکړ نژدې ملګری ډاکتر فضل احمد عبدياني وو، چې په خورا په زړه پورې توګه يې د ډاکټر کاکړ پر شخصي، کورني او ورځني ژوندانه رڼا واچوله .

دغه پرتمينه غونډه د سيمي د مشهورو شاعرانو ښاغلو انجينير وکيل متين، حامد الوتاند، کاظم بيمار او تيمور شاه په خوږو اشعارو لا رنګينه شوې وه. غونډې ته د پوهاند کاکړ ميرمنې محترمې مريم کاکړ هم وينا وکړه او د خپلو خبرو په ترڅ کې يې هغو سختو- تنګو ته هم اشاره وکړه چې په افغانستان کې د شورويانو د لاس پوڅي رژيم په دوران کې ددوی کورنۍ ورسره مخ وه او د پلچرخي په زندان کې يې دپوهاند کاکړ ژوند په خطر کې اچولای وو.

دغې غونډې ته ګڼ شمير پيغامونه هم رارسيدلي وو چې په هغو کې د اتريش د ويانا د ښار څخه د ښاغلي عبدالحفيظ مليار شعر، د آستراليا څخه دښاغلي عبدالحی ګربز صافي، ښاغلي حاجي ولي محمد ( ګلستان)، د سويډن څخه د **کانديد اکاډميسين محمد اعظم سيستاني** پيغامونه د يادونې وړ دي . او دپروفيسور سيد خليل الله هاشميان پيغام هم رارسيدلي وو، چه د ميرمن ماهروی هوتکي لخوا ولوستل شو.

پوهاند کاکړ دغونډې وينا والو او ګډون کونکو ته د تشکر او منني په ترڅ کې وويل چې ددغې مهربانيو او ستاينې ځواب په الفاظو کې نشي اداکولی . دا قدرداني د علم څخه قدرداني ده ، ده چې څه کړي دي ، د هغو مرستو ، کمک او مهربانيو په مقابل کې چې ټولنې يې ورسره کړيدي، هيڅ هم نه دي . ده درويشت کاله ددغې جامعې په پيسو او حکومت په مرسته تحصيل کړيدئ . ده زياته کړه چې متأسفانه مونږ ونشوکړای په افغانستان کې پاتې شو او خدمت وکړو. پوهاند کاکړ په ټولنه کې د علم دزده کړې او عالم تأثير ته په اشاري سره افغاني ځوانان تحصيل ته تشويق کړل . ده زياته کړه چې که شاهي مشروطه دوام کړې وای نو اوس به دافغانستان حالت داسې نه وای . ده وويل چې غټه


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

هیله یي داده چې د افغانستان چارې د تحصیل کړو خلکو په لاس کې وي چې دهیواد منابع دخلکو د ژوند د ښه کولو دپاره په کار واچوي .

دښاغلي کاکړ د درناوي دغونډې بله برخه هغه ته د برابرشوو ستاینلیکونو او تحفو ورکول وو. دغه پرتمینه غونډه تر ډوډۍ وروسته د هیواد د تکړه سندرغاړي انجینیر ایشان مومند په خوږو غزلو او سندرو پای ته ورسیده چې د تبلي په برخه کې ورسره ښاغلي توریالي هاشمي مرسته کوله .

حبیب هوتکي
دافغاني کلتوري ټولني د فرهنګي چارو جرګه

دغونډې یو څو عکسونه :


ښاغلي حبیب هوتکي، ډاکټر همایون قیومی او پوهاند ډاکټر محمد حسن کاکړ



**ډاکټر سید عبدالله کاظم د وینا په حال کې**